Pashto Version

# د کډوالو لپاره سرچينې



## د انګلسي ژبې زده کول

که تاسې په انګلسي ژبه نه غږيږئ، د امريکا متحده آيالاتو کې ميشت کيدل ممکن ويرونکي وبريښي. يو چيرته تلل، د دندې موندل، حتى د خوراکي توکو پيرل هم په انګلسي ژبې باندې غږيدو محدود وړتيا سره مشکل دي. په هرصورت، د انګلسي ژبې زده کول په نهايت کې تاسې سره مرسته کوي خپله نوې ټولنه کې په برياليتوب سره جذب شئ. ستاسې د عمر يا جنډر په پام کې نيولو پرته په انګلسي ژبه د غږيدو او پوهيدلو لپاره زده کړه تاسې سره مرسته کوي لاډير په ځان بسيا شئ، د ښه معاش لرونکې دندې پيدا کړئ، او د نوي ملګرو او ګاونډيانو سره راشه درشه وکړئ. تاسې ممکن د دندې موندلو نه مخکې د انګلسي ژبې زده کړې لپاره ډير وخت ونلرئ، مګر کله چې تاسې دنده ومومئ، تاسې اړ يې انګلسي ژبې زده کړه او کار په ورته وخت کې وکړئ. تر هغه وخت پورې چې ستاسې انګلسي ژبه ښه کيږي، د هغو خلکو لپاره چې اړتيا لري د روغتونونو او محکمو په څير ځايونو کې د ژباړونکي خدمتونه موجود دي.


### د انګلسي ژبې زده کولو ګټې



انګلسي ژبه د امريکا متحده آيالاتو کې ډيره عام کارول کيدونکې ژبه ده او د امريکا متحده آيالاتو کې ډيرى خلک به ونشي کړى تاسې سره وغږيږي يا ستاسې په خبره پوهه شي که تاسې انګلسي ژبه زده نکړئ. د انګلسي ژبې زده کول ستاسې لپاره مهم دي چې ژوند وکړئ او وده وکړئ. که تاسې ماشومان لرئ نو په انګلسي ژبه پوهيدل به تاسې سره مرسته وکړي چې د خپلو ماشومانو ښوونځي سره ښکيل اوسئ. علاوه لدې، تاسې اړ يې انګلسي ژبه زده کړئ ترڅو په هغه ښار او آيالت کې چيرې چې تاسې اوسيږئ وصل اوسئ او باخبر اوسيدونکى اوسئ. تاسې اړ يې انګلسي ژبه زده کړئ ترڅو ټيسټ پاس کړئ کله چې د امريکا متحده آيالاتو تابعيت لپاره غوښتنه کوئ.

د انګلسي ژبې زده کول







که تاسې د ژبې زده کولو لپاره قوي لیوالتیا ولرئ تاسې به انګلیسي ژبه ډېره په چټکۍ سره زده کړئ. دلته ځینې دلایل دي چې د انګلیسي ژبې زده کول ولې مهم دي:

- د دندې ترلاسه کولو او په دنده کې د بریالیتوب لپاره.
- د خپلو ماشومانو د ښوونکو سره ارتباط نیولو لپاره.
- پدې د پوهیدلو لپاره چې ستاسې ماشومان او لمسیان څه وایي.
- ترڅو خپلواک اوسئ: د عامه ټرانسپورټیشن کارولو او د خپل ځان او خپلې کورنۍ لپاره پیرود کولو لپاره.
- د خپلو ګاونډیانو سره د غږیدلو لپاره.
- د تلویزیون، ورځپاڼو، او انټرنیټ له لارې د دې نه خبریدو لپاره چې په نړۍ کې څه تیریږي.
- د امریکا متحده آیالاتو د تابعیت ازموینې پاس کولو لپاره ترڅو وکولی شئ د امریکا متحده آیالاتو تبعه شئ.
- د همکارانو سره او په ټولنه کې د نورو خلکو سره د غږیدلو لپاره.
- د ډاکټرانو سره د ملاقاتونو اخیستلو لپاره او دغه ملاقاتونو ته د ژباړونکي پرته ورتللو لپاره.

## د انګلسي ژبې ټولګي

ډېری ټولنې هغه مهاجرینو او کډوالو ته د انګلیسي ژبې ټولګي وړاندې کوي څوک چې پدې وروستیو کې د امریکا متحده آیالاتو ته راغلي وي. ځینې یې وړیا دي او ستاسې د بیا میشتیدنې اداره به تاسې سره مرسته وکړي چې تاسې ته څیرمه د انګلیسي ژبې د زده کړې موجود فرصتونه پیدا کړئ.

د انګلیسي ژبې تولګیو کې د مختلف عمرونو، تعلیم، او ملیتي شالید لرونکي نارینه او ښځې یوځای کښیني. د پیلي سطحې ټولګیو کې زده کونکي عموماً ساده، عملي انګلیسي ژبه زده کوي چې نوی راغلی فرد ورته شاوخوا ګرځیدو کې اړتیا لري. د مثال په توګه، تاسې کولی شئ د انګلیسي ژبې عبارتونه زده کړئ چې تاسې سره په پلورنځي کې د شیانو پیرلو، د بس مهالویش لوستلو یا د دندې لټون کې مرسته وکړي. ځینې ټولګي د ټاکلي دندو لپاره اړین انګلیسي ژبې ښوونه کوي؛ لکه په یوه هوټل کې کار کول یا په طبي مسلک کې کار کول. د لوړې سطحې ټولګیو کې زده کونکي د انګلیسي ژبې ګرامر، لوست او لیک ته ډېره توجه کوي. د انګلیسي ژبې داسې ټولګي هم شته چې زده کونکي د کالج لپاره چمتو کوي.



## د انګلسي ژبې زده کولو نورې لارې

د انګلیسي ژبې زده کولو لپاره ډېرې بیلابیل لارې شتون لري. اکثر د څو لارو ترکیب ډېر اغیزناک وي. لاندې د ټولګي نه بهر د انګلیسي ژبې زده کولو لپاره د لارو چارو مثالونه دي:

**په کار کې د انګلیسي ژبې زده کول.** کله چې تاسې دنده واخلئ، تاسې ممکن د انګلیسي ژبې هغه لغتونه او اصطلاحات زده کړئ چې د دغه دندې لپاره ګټور وي. تاسې به همکاران او د امکان له مخې مراجعین او پیرودونکي ولرئ چې په انګلیسي ژبه غږیږي. د هغوی سره غږیدل به تاسې سره مرسته وکړي چې خپله انګلیسي ژبه ښه کړئ.

**په خپله ټولنه کې د انګلیسي ژبې زده کول.** ټولنیز اوسئ او د نوي خلکو سره لیدلو لیواله اوسئ. په پلورنځیو کې د نا آشنا خلکو سره غږیدل او د ملګرو یا ګاونډیانو سره د انګلیسي ژبې تمرین کول په پیل کې مشکل کیدی شي، مګر د ډېری خلکو خوی به دوستانه او ګټور وي. په خپل ګاونډ کې د انګلیسي ژبې یا کلتوري تبادلې کلب سره یوځای شئ یا پیل یې کړئ او یوازې په انګلیسي ژبه د غږیدو لپاره منظم سره وګورئ. د ډلې سره هغه فعالیتونه پلان کړئ چې تاسې ورته خوند اخلئ لکه میوزیم ته تلل یا په پارک کې پلې تګ کول. دا د نورو هغه خلکو سره چې ژبه زده کوي یا څوک چې وارددمخه په انګلیسي ژبه غږیږي د هغوی سره په انګلیسي ژبې د غږیدو تمرین کولو غوره لاره ده. دا همدارنګه د امریکایي کلتور او دودونو په اړه د زده کړې لپاره هم ښه لاره کیدی شي.

**په خپلواک ډول زده کړه کول.** خپل ځان وهڅوئ چې هرکله او هرچیرې تاسې وکولی شئ انګلیسي ژبه زده کړئ. تاسې کولی شئ دا کار د انګلیسي ژبې فلمونو یا تلویزیوني برنامو په کتلو سره وکړئ، یا هم په راډیو کې د انګلیسي ژبې پروګرامونو په اوریدلو سره. د نوي لغتونو چې تاسې یې زده کوئ لست وساتئ او د هغه انګلیسي د لوستلو هڅه وکړئ چې تاسې یې خپل شاوخوا د کوڅو نښو باندې، په بسونو باندې، او د پلورنځیو کړکیو کې ګورئ.



**د کورنۍ په توګه یې زده کړئ.** ستاسې کورنۍ کې هرڅوک به تاسې سره انګلیسي زده کوي. د انګلیسي ژبې لوبو لوبیدو او په کور کې هره ورځ د "یوازې انګلیسي" وخت درلودو په واسطه د دې نه د کورنۍ د ساعتیرۍ فعالیت جوړ کړئ. په ټولګي کې یا په ځانګړې برنامو کې د مرستې لپاره رضاکارۍ له لارې د خپل ماشوم ښوونځي کې دخیل شئ. ماشومان نوې ژبه ژر زده کوي، نو د هغوی سره سم تلل مهم دي.

## د انګلسي ژبې زده کول وخت اخلي

په پیل کې ممکن ستاسې لپاره د انګلیسي ژبې زده کول سخت وي او د نا امیدۍ احساس وکړئ. دا ډول احساس کول نورمال دي. هر شخص مختلف سرعت او په مختلف طریقه زده کړه کوي. تاسې باید د بیلابیل طریقو هڅه وکړئ ترڅو پیدا کړئ چې څه شی ستاسې لپاره غوره کار کوي. د نوې ژبې زده کولو کلي هره ورځ تمرین کول دي. حتی که تاسې په ورځ کې یوازې لس دقیقې هم په انګلیسي ژبه راډیو ته غوږ شئ یا تلویزیون وګورئ نو مرسته درسره کولی شي. د وخت او تمرین سره به تاسې په اسانۍ سره انګلیسي ژبه باندې خبرې کوئ او دا به د امریکا متحده آیالاتو کې ستاسې د سازګارۍ پروسې اسانولو کې تاسې سره مرسته وکړي. دا به وخت واخلي مګر که تاسې هڅه کولو ته دوام ورکړئ نو اسانه کیږي.

**Cultural Orientation Resource Exchange**
8719 Colesville Road, 3rd Floor • Silver Spring, MD 20910
For more information, visit the CORE Resettlement Navigator website at **corenav.org**.

The contents of this fact sheet were developed under an agreement financed by the Bureau of Population, Refugees, and Migration, United States Department of State, but do not necessarily represent the policy of that agency and should not assume endorsement by the Federal Government. **This material is in the public domain and may be reproduced.**